بســــــــــــمل
۲۰۱۰-۰۳-۱۲

## دسپيني مانۍ واکمنانوته دبايرن مېشتو افغانانواحتجاجليک

نن د جرمني په مونشن ښارکي دافغانانو دکولتوري ټولني په نوښت ګن شمېر افغانان تنظيم شوي وو څو د ولسمشر اوباما د ځانګړي استازي ښاغلي ريچاردهولبروک دتعصب امېزو څرګندونو په وړاندي خپل رسمي احتجاج ليک دسپيني مانۍ واکمنانوته دامريکادقنسلګيري له لاري ورولېږي خو Odeonsplatzته څېرمه د پوليسودمشوري له کبله وړاندي نه ولاړو پوليسو ووېل چي اول خوستاسوحرکت ډېليز ښکاري دي ډول حرکت ته رسمي اجازه اخيستل په کاردي چي کم له کمه يوه تر دوو اونيو پوري وخت ته اړه لري دوهم دا چي دامريکا دقنسلګري ساتونکي امريکايان دي ، کېداى شي ستاسو ورتګ په وړاندي خطرناک غبرګون وښيي چي بيا به يې ټول مسؤوليت ستاسو پر غاړه وي موږ هم ورسره ومنله خو له واره موله قنسلګري سره تيليفوني اړيکه ونيوه هغوى لمړى مخالفت وښود وروسته مېرمن کروګير Kroger ووېل چي ستاسو په استازيتوب دي يو تن احتجاج ليک راوړي هغه و چي زموږ دملګرو په خوښه ما محمدامين بسمل زموږ دکولتوري ټولني رسمي احتجاج ليک وروړ د دې احتجاج ليک نوري دوه کاپي نوموړي قنسلګري ته د پست اوفاکس په وسيله هم ور لېږ ل شوي دي، همدا رازپه برلين Berlin کي د امريکا له سفارت سره هم تيليفوني اړيکه ونيوه شوه هغوې دا احتجاج ليک د فاکس په وسيله له موږ څخه وغوښت، په دوزلدورف Düsseldorf کي مو د امريکاقنسلګري ته هم ورفاکس کړ، دکابل ارګمشرحاجي کرزي ته مو په پښتوژبه د ايميل په وسيله ورولېږه هيله ده چي سر يې لړ ګرېوان ته ټيټ شوى وي د احتجاج ليک ژباړه په جرمني ژبه شوې وه چي پښتو متن يې په دې ډول دى :

۱ ـ موږ په انسانيت او افغانيت مين افغانان په افغان ولس او هر انسان هر ظالمانه تيرى محکوموو.

۲ ـ موږ ستاسو د ځانګړي استازي ښاغلي ريچاردهولبروک هغه غير عادلانه او غير مسؤولانه څرګنـــدوني په کلکه غندوکومي يې چي دهاوارډپوهنتون په کنفرانس کي دمارچ په پنځمه نېټه کړي دي هغه په ډېرکبرسره نه تنها چي پښتنو ته په بده سترګه کتلي بلکي د هغه څرګندوني هم د پښتنو دعام وژني (جينوسايد) داعلام په ډول او هم دامريکا دکتوپرخلاف بللاى شو ځکه خوبايد ريچارد هولبروک له دندي ګوښه او له پښـــتنو څخه بخښنه وغواړي .

۳ ـ تاسوچي اوس له تروریزم سره د جګړې په پلمه دنړۍ ګوټ ګوټ په تېره بیا په اسیا کې خورا ډېرې مهمي ستراتیژیکي سیمې (افغانستان ) ته ځانونه رسولي اوغواړئ چې لا نورهم پرمخ ولاړشئ ښه به وي چې له دقت او عدالت څخه کار واخلئ، تاسو په دا اتوکلونوکي له یو پلوه دشمال د بدنامې او جنایتکارې ټلوالي په ملاتړ خپل نړیوال شهرت اوشخصیت ته زیان ورساوه له بل پلوه موپه خپلو سرزوریو دنړیوالو پام دراړاو که تاسو په رښتیا هم د خپل بري هیله کوئ نوبیاولې ستاسو دیوې مانۍ پر بام دوه هواوې چلیږي د دفاع وزیر ښاغلی رابرټ ګېټس مو یو څه او ځانګړی استازی ښاغلی ریچاردهولبروک مو بل څه وایي ؟

۴ ـ داچې دنړۍ پر مخ خاموش اکثریت لانه خوځي یا په ظاهري ډول ستاسو او نورو زورورو ترمینځ سره جګړه ختمه او ستاسو په وړاندې کوم جدي غبرګون نه ښیي دا په دې مانا نه ده چې څوک له تاسو سره خواخوږي لري یاموڅوک پر حق بولي بلکې ستاسو ننداره کوي چې کله به دخپلو سهوو له کبله د زماني ګردابونو ته لاهو شئ .

۵ ـ دسپینې مانۍ پرونیو اونننیومشرانو ته دې مالومه وي چې دڅه باندې دېرشو کلونو په موده کې له پښتون قام سره خوراناوړه ظلمونه شوي دي خوپښتنولا خپل زغم له لاسه نه دی ورکړی پښتنو د تاریخ په اوږدو کې له خپلې خاورې په مېړانه دفاع کړې ، داد پښتنومسلم حق دی چې دخپلې خاورې واک پخپل لاس کې ولري.

نننۍ افغان مقاومت چې تاسو ګورئ په دې کې خپلواکۍ طالبان نه دي د طالب په نوم خوځښت دیولړځانګړو اهدافو لپاره مینځ ته راغلئ چې تاسوته یې هم ښه پوره پته شته خو له بده مرغه چې ریچارد هولبروک په ټولو پښتنو تور لګولي او وایي چې په هره پښتني کورنۍ کې یو تن دطالبانوملاتړی دی .

ماناداچې داقام بایدله څېرمه ورک اوبربادشي خوهغه په دې نه دی خبرچې نن سبادنړۍ پرمخ له شپېتو میلیونو څخه زیات پښتانه ژوندکوي د دې اتل قام له مینځه وړل ناشونی کاردی هرڅوک که ددې قام تباهي غواړي هغه به پخپله ورک شي تاسو کولای شئ چې د پښتون قام ماضي د تاریخ په زرینو کرښو کې وګورئ .

۶ ـ موږ به له ښاغلي ریچاردهولبروک سره داومنوچې ستاسو په وړاندې طالبان د رواني جګړې رهبري په لاس لري خوداهیڅکله نه شو منلای چې طالبان دخپل واک او په خپل سر اهداف ټاکي، که طالبان دخپل واک وای نو له بل هر چا د مخه به یې د شمال له جنایتکارې ټلوالي څخه خپل غچ اخیستی وخوطالبانودشمالي ټلوالي پر ځای پښتنوته زیان رسولی دی که تاسویې نه منئ نو داداتوکلونو ځانمرګي بریدونه وګورئ چې دچا په وړاندې شوي دي آیا دشمال د ټلوالي په تېره بیا دنظار دجنایتکارې شورا کومه چرګه هم پکې مړه شوې ده؟

زموږ دمنطق پر اساس د ښاغلي ریچاردهولبروک ادعابې بنسټه او پوچه ده، په پښتون مېشتوسیموکې نننۍ سخت مقاومت هغه څوک کوي کوم چې ستاسودناکردوله کبله پوزې ته رسېدلي دي موږ صرف هغوی ته افغان مقاومت ویلای شوطالبان دمقاومت هغه برخه جوړوي کومه چې له بده مرغه له ګټې څخه یې تاوان ډېردی ځکه چې دوی دسیمې اونړۍ دمغرضو قوتونوترکنترول لاندې دي یو ځل بیا وایو چې په افغانستان یرغل او وروستي ستاسو نادودې ددې سبب شوې چې مقاومت را پورته اوجګړه اوږده شي تاسوخو یوځل داد نړدې یوې لسیزې په هنداره کې خپل مخونه وګورئ چې تاسو افغان ولس ته څه ورکړي دي؟

تاسو ولې دافغان ولس زړه په لاس کې ونه نیو تاسوافغانانودا د سرې جګړې قربانیانو ته کومې مهمې تولیدي پروژې یاعلمي موسسې ودانې کړې چې افغان خوینډې وروڼه پکې بوخت شوي وای ؟

ولې مودنورنبېرګ Nürnberg دمحاکمې په ډول جنګي جنایتکاران دافغان ولس په وړاندې محاکمه نه کړل؟

تاسونه تنهاجنگي جنايتکاران دخپلوموخو لپاره ونازول بلکي د فساد، مخدره توکوتوليددشخصي او دولتي ملکيتونوغصب اونوروهراړخيزوبي عدالتيوته موهم دهغوي په وسيله زمينه برابره کړه ، تاسوددموکراسي تر چترلاندې دافغان ولس په اکثريت باندې دلړکيوظالمانه اوبي رحمانه استبداد حاکم کړ، ددې تر څنګ تاسو په پښتون مېشتوسيمو کې په پر له پسې توګه اورونه بل وساتل، په هديرو، ودونو، د خوښيو په محفلونو او آن پرجنازو موبمونه ور وورول، ژوندی مثال يې ديوځو ورځومخکې هغه عمليات تاسوته يادولای شوکوم چې له بګرامه څخه ستاسوځانګړوخونړيوقواوودلويې پکتيازرمت ولسوالي په ختيځ کې ترسره کړل ستاسو ځانګړو قواووهلته په يوه کورنی کې درې مېرمنې او دوه داسي نارينه ووژل چې دولتي مامورين وو هغوی دخپل نوي زېږېدلي زوی په وياړ دخوښي مېله نيولي وه چې د تاسو پوځيانو په وينو ورته ولمبوله همدا راز تاسو زموږ په بې وزلوخلګو د شپې چاپې ووهلې ښځې او ماشومان مو په سپيو وروداړل ، په خوست ولايت کې مود کرکټ پياوړی لوبغاړی رحمت ولي په خپل کورکې په شهادت ورساوه ، که دتاسو په داخپل هيواد(امريکا)کې داډول نادودې کوم بل چاله تروريزم سره دجګړې په پلمه له تاسوسره کړې وای ياېي وکړي آيا تاسي به يې په وړاندې مقاومت راپورته نه کړئ؟

نوکه ستاسومقاومت ددې ډول بې عدالتيو په وړاندې راپورته شي تاسوبه بياداخپل مقاومت مشروع وبولئ او که يو تروريستي خوځښت ؟

**دحقوقي ترمينالوژي له نظره دهر هيواد وګړي دخپلې خپلواکي، ملي ګټواو دخاورې دتماميت لپاره دوسلوال او سوليز مقاومت حق لري موږ افغان مقاومت له همدې کبله مشروع بولو .**

٧ـ هولبروک چې دختيځ تيمور او اندونيزيا په جګړه کې دڅه ناڅه دوو سوو زروتيموريانو په وژنه ، په سويلي کوريا کې په يوه خونړۍ پېښه اوله سويلي کوريا نه ديو شمير امريکايي پوځونودوتلو په بهير کې د ١٩٨٠کال په مۍ کې دامريکايي پوځيانوپه لاس دګوانګجو د ډله ييزې وژنې په پيښه تورن او په بالکان کې درځ او کرکه اچوونکی ګنل کيږي اوس غواړي په خپل اوياکلن عمر کې د عادت او کينې له مخې زموږ دسيمې په جغرافيه کې هم د ډېورنډپه شان ناولې کرښې کش اودبېګناه ولسونو وينې پکې وبهوي، زموږ له نظره ښاغلي ريچارد هولبروک دخپل کبر او خونړۍ ماضي له کبله دا وروستۍ څرګندونې کړې دي که داسي نه وي نو هرو مرو کومه رواني ستونځه لري چې بايدله دندې څخه ګوښه اوژرتر ژره تر درملنې لاندې ونيو شي که کومه رواني ستونځه

نه لري نوبيايي په څرګند او شعوري ډول هم له(پښتون)قام سره تعصب ښودلی اوهم يې دخپلې ماضي پورتني تورونه اوشکونه په يقين بدل کړي چې بياهم بايدله دندې څخه ګوښه اوبخښنې ته اړېستل شي بايد زياته کړو چې په ننيوحساسوشيبوکې د هولبروک په ډول څېرې نه تنها دبشري حقونو او دموکراسي په لمن داغونه ږدي بلکې دامريکا داوږدې ستراتيژي او ګټو په وړاندې به لوی لوی خنډونه رامينځ ته کړي .

يادونــــــــــــــــــــــــــــه :

که تاسو زموږ غوښتنې ونه منئ موږ به د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپلوحقه حقونو د ترلاسه کولولپاره سوليز لاريونونه او متينګونه تنظيم کړوچې دهرې پايلې مسؤوليت به يې بياستاسوپر غاړه وي داهم زياتوو چې موږ د هر ډول تروريزم د زېږندې او ودې مخالفت کووموږ به دخان عبدالغفارخان د(عدم تشدد) په رڼا کې په مخ ځو .

له افغانانو څخه زموږجدي غوښتنــــــــــــــــــــــــــــــــې :

په هیواد دننه او بهر کې له ټولو با احساسو افغانانو په تېره بیا لـه پښتنو څخه غواړو چې زموږ داحتجاج ملاتړ وکـړي ، زمـوږ دکولـتوري ټـولنې ټـول غـړي لـه هغو بـاتورو افغانانوڅخـه مننـه کـوي کومـو چـې دمتعصیب ریچارد هولبروک دناروا څرګندونو په وړاندې غبرګونونه وښودل خو بیاهم موږ دا کافي نـه ګڼو زموږ غوښتنه له بل هر چا څخه دمخه دکابل په اداره کې له دا ځینو لوړ پوړو پښتنوچارواکو څخه داده چې که ټول نـه وي نو کم له کمه خودې یوڅوتنه دریچـاردهولبروک ددې ظالمانـه څرګندونوپـه غبرګـون کـې استعفأورکړي، خیـردی اوس هم لا دا چانس لري چې داستعفأوو په وړاندي کولو سره په خپل هیواد اوځورېدلي قام کې ځانونه محبوب کړي.
په دوهم ګام کې زموږ غوښتنه له ټولو فرهنګي او ټولنیزو کړیو څخـه دا ده چې پـه همت سره راپورتـه او پـه ډلیز ډول له خپلوحقونوڅخه دفاع وکړي، باور مو وشه که دا ځل یو نه شو همدا پردي به مو یو یو ورک کړي .
دلته اړین ګڼوووایو چې دا یو شمېرکولتوري او ټولنیز جوړښتونه دې د تشریفاتي او غیر لازمي چارو پرځـای حیاتي چارو ته پام وکړي منظور مو دادی چې ښه به وي لمړی داخپل قام وژغورو بیابه دا نورې چارې تر سره کړو، پـه دااتوکلونوکې خو یـې ښـه وینـئ چـې پـه څـه ډول مکر، پلمواوتورونو زموږ دابـې ګناه ولس دجینوساید (قام وژنې)ګړنګ ته ور ټېل وهي، مخکې خو به یې یوطالب او القاعده راته یادول چې پـه ځینو سیمو کې حاکم دي خو داځل ریچاردهولبروک په هره پښتني کورنۍ تور ولګاوه دلښکر طیبه ببولالې یې هم دادي پیل کړې مانا داچې جګړه به په نوو پلمو پراخوي، لـر اوبربـه پکـې لانـورهم نینـه نینـه کـړي اوبـه بـه تـر هغـې مودې خړې ساتي تر څو ټول کبان پکې ونیسي ځکه خو په خورا درناوي سره ټولوغمشریکو افغانـانو تـه ځـولۍ نیسوچې یو اوبل ته لاس ورکړي د ملي یوالي، رښتیني او صادق مشر څرک ولګوي تر څو لـه پورتنیو دسیسو څخه وژغورل شو .

په جرمني کې دبایرن مېشتو افغانانوکولتوري ټولنــــــــــــــه